هفته نامه

اتحاد اسلامي

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانـ

شماره مسلسل « ۲۵۳ » سال هشتم شماره « ٤ » دوشنبه « ۲٤ »حمل۱۳۷۱ هـ ش و « ۱۰ » شوال المکرم ۱٤۱۲ هـ ق مطابق«۱۳ »اپریل۱۹۹۲میلادي

PROPERTY ACKU

دفاریاب ولایت د دولت اباد دولسوالۍ تولې ملیشه اوعسکري قواوې مجاهدینوته تسلیمې شویدې

دمیډیا خبري آژانس دریوټ له مخې : په فاریاب ولایت کې دکابل رژیم ملیشه قواوې ، ددولت آباد ولسوالي ، لوا ، او شاوخوا امنیتي پوستې چې دمیمنې مرکز په شمال (٤٥) کیلومترې کې دترکمنستان پولې سره نژدې موقعیت درلود ، داپریل په لومړۍ نیټه دوکیل حبیب الله او دملیشه قواو دعمومي قوماندان جنجک په مشرۍ داسلامي عفوې او ارتباط له مخې مجاهدینو ته پرته له جګړې تسلیم شویدي .

په خبر کې ویل شوي چې : مجاهدینو سره دملیشه قواؤ دیوځاي کیدلو په وخت کې مرګ ژوبله نده شوې اوملیشه قواؤ (۲۵) عرادې فعاله ټانکونه ، (۸۰۰۰) میله سپکې وسلې ، (۱۰) میله دافع هوا ، دوه سوه میله ګرینوف ماشینداري ، سل میله وسط راکټونه ، (۲۰) میله زیکویك ، (۱۸) میله هاوان ، (۱۵) میله صحرائي توپونه (٦) غرنۍ هاوانونه ، یوه دستګاه دبي ام (۲۱) رنګارنګ (٦۰) عرادې نظامي موټرونه (٥) عرادې دمخابرې موټر دیوې زیاتې اندازې نظامي مهماتو ،

زندانیان سیاسي زندان پلچرخي کابل نسبت کمبود مواد غذائي دست به تظاهرات زدند

بگزارش خبرنگار اعزامي (میدیا) ازکابل ، زندانیان سیاسي زندان بدنام پلچرخي اخیراً نسبت کمبود در استحقاق مواد غذائي دست به تظاهرات زده که بعداً منجر به زدوخورد بازندانیان گردید .

گزارش مي افزاید : بیشتر تظاهرکنندگان راصاحب منصبان وافراد گروه خلق حزب کمونیست کابل تشکیل میداد که بنابرعوامل مختلف بخصوص آنهاي که دراثر کودتاي ناکام سه سال قبل علیه نجیب دستگیر وبه زندان افگنده شده اند .

طبق گزارش درین درگیري که درساعات شب صورت گرفت پنج نفر کشته و چند نفر دیگر جراحت برداشته اند .

استاد سیاف دشهید استاد احمدزي دفاتحې په غونډه کښې :

دمؤقتي اداري له پاره دبیطرفانوهیئت پهحقیقت کښې یوپُل دی چې امریکا اودهغې ملګرې غواړې دکابل په رژیم باندېخپل اعتراف له همدې لارې تیرکړي

مونږخپل موقف یوځل بیا اعلانوو چې په افغانستان کښې دجهاد داهدافو سره سم دمجاهدینو له مینځه دمجاهدینو په لاس داسلامي نظام قایمیدل غواړو، نه زعامت ته کاندیدیاونه وزارت ته.

د افغانستان د اسلامی اتحاد امیر محترم استاذ سیاف د شهید استاد احمدزی د فاتحی په غونډه کښې چې پرون په ځمکنیو کښې دجمعیت اسلامی افغانستان دمرکزي دفترترڅنګ دسهارله ۹ بجونه د ماسپښین تر یوې بجې پورې روانه وه وویـل :

د شهید احمد زی قاتلان د روسانو انګریزانو ،امریکائیانواوخدای دښمنانو مزدوران او اجیران دي .د احمدزی قتل که خلکوته له دې امله چې یونیك خویه او بې ازاره انسان ؤ د حیرانتیا وړښکاری حوزه وایم چې که هغه خویه اوبې ازاره ښکاریده خو ددښمنانو په نظرکښې عادی شخصیت نه ؤ . هغه د ثبات ، استقامت ، درائی دصلابت ، دفکر د اصالت اودهدف او آرمان خاوند ؤ اوداهغه لوی صفتونه دي چې دده شخصیت یې جوړکړی ؤ اوهمدا هغه عناصردي چې ددښمن د غیض ، غضب اومکر پاروونکي دي .

احمدزی ددښمنانو دسترګو اغزی او داسلام یو قوی سنګر ؤ له همدې امله یې په بیرحمانه او وحشیانه ډول دهغه د ترور نقشه جوړه او په کار واچوله خو مونږ به د خدای په توفیق دده او ددغسی نورو شهیدانو انتقام اخلو . انشاء الله .

د افغانستان د اسلامی اتحاد امیر د شهید احمدزی دښو صفتونو او کارنامو له یادونې وروسته د افغانستان د جهاد دروانو حالاتو په هکله یوځل بیا دخپل تنظیم موقف په صراحت سره څرګند کړ ویې ویل :

زمونږ ثابت ، نه بدلیدونکی اوبی تلذبذبه موقف چې تاسی به دولس دیارلس کاله پخوا اوریدلی وي دادی چې څنګه چې په افغانستان کښې وینې د مجاهد توی شوي ، غځلې د مجاهد توی شوي ، په غرونو رغونو کښې د مجاهدینو د بدن اندامونه خواره واره پراته دي اودا خرڅ شوی هیواد مجاهدینو بیرته ګټلی دی نو د افغانستان آینده سرنوشت باید د مجاهدینو په لاس وټاکل شي اوحکومت باید د مجاهدینو له مینځه اود مجاهدینو په خوښه او اراده جوړشي اوزمونږداموقف واضح ، شرعی اصولی ، اسلامی او معقول موقف دی چې هرمسلمان اومجاهد یې باید ولري.

استاد سیاف دملل متحد ترحکمیت لاندې د مؤقتی اداري د جوړېدو په هکله وویل : داکوم کسان چې لستونه یې د مؤقتی اداری جوړېدو له پاره بنین سیوان ته ورکړشوي دي داپه واقعیت کښې همغه کسان دي چې افغانستان یې خرخ کړی دی . افغانستان ته د کمونیزم ، الحاد ، بې دینی شر ، فساد او ناروا ودراننوتلو په وخت کښې همدوی ددې هیواد په دروازو کښې پیره داران وو . د فارسی مشهـور متـل دی چې :

« ازموده را ازمودن خطاست »

کوم اسلام ، کوم ایمان اوکومه عقیده به مونږ ته اجازه راکړي چې هغو خلکو چې زمونږ په نوامیسو باندې د پردیو ټانکونو او پوځونو ته لاره أواره کړی چې زمونږ په خپلو ککریو باندې را تیرشوی دي اوس بیا جوړېدو وثیقه امضا کوو نو ددې معنا داده چې دا غیر اسلامی نظام زمونږ په امضاء ، زمونږ په اراده او فیصله بیا افغانستان ته راغلی مونږ به په دنیا کښې دا پیغور څنګه وړو اوپه آخرت کښې به له خدای سره په کومو سترګو مخامخ کیږو!

د اسلام ددښمنانو زاړه حامیون او پشتیبانان چې په وینورنګ افغانستان کښې د پلټنی،وهلو او حکومت کولو خوبونه وینی اوپه لستونو کښې یې نومونه راغلي دي . انشاء الله چې اعتراف نه کوي بلکې د کابل په رژیم باندې اعتراف کولوته لاره خلاصوي . کنه نو داڅنګه کیدای شي چې پوځ خلکی، امنیتی قواوی خلکی ، انتظامیه خلکی اوټول دارمدار د خلکیانو په لاس کښې او بوازې لس پنځه لس کسان دې ورشي او د دوو متحاربو قوتونو اداره دې په لاس کښې واخلي اوهلته دې امن او استقرار راولي !!

که درادیوګانو او اخبارونو خپروني درپه یادوي امریکا لا د پخوانه دا غوښتل چې په کابل کښې بیرته خپل سفارت پرانیزي اودکابل رژیم سره خپل

سفارتی تعلقات یوځل بیا برقرار کړي خو د تیر دولس دیارلس کلن سیاست له مخې ورته ګرانه ښکاره شوه چې داکار وکړي ترڅو یې چې اوس په دې پلمه خپل هدف ته درسیدو له پاره یوه لاره برابره کړه ، اوغواړي چې په دې ترګه په مسلمان افغانستان کښې د اسلامی نظام د حاکمیت د ټینګیدو مخه ونیسي اومهاجرین بیرته دهغه چا په وړاندې ودروي چې مخکښې یې دهمغو څخه هجرت کړی ؤ او خپل وطن یې پرې ایښی ؤ .

د افغانستان د اسلامی اتحاد امیر داخبرونه به یې یې تعبیره پاتې شي . که دوې کابل ته رسول شوي هُم وي نو د مرتد اومطروده نظام جز به وي . دا په حقیقت کښې یو پُل دی یوه لاره ده چې امریکا أودهغې دوستان غواړي چې د کابل په رژیم باندې خپل اعتراف اودهغه په رسمیت پیژندل د همدغه پله له لارې تیرکړي .

هغوی په دې کمیسیون باندې

په خپله خوښه او رضا دې ته چمتو شو چې د خپل هیواد د دروازو پیره داري بیا همدغو وطنفروشو ، دین فروشو او غدارو خلکوته وسپارو . مونږ د یوې لحظې له پاره هم یو غیر اسلامی نظام- غیر اسلامی اداره یا هغه اداره چې له مجاهدینو پرته له بل چا څخه جوړه شوی وي نه منلی شو اونه یې منل روادی . که مونږ ددغسې اداري د مؤمنانو له پاره ډیر نرم ؤ خو ددښمنانو پرخلاف یې د یوې تیرې توري حیثیت درلود ، دهغه دعوت ، دهغه تفسیر کول ، دهغه مضمون لیکل هرڅه ددښمن پرخلاف ګوزارونه وو . دښمنان په بدانو پسې نه بلکې په نیکانو پسې ګرځي او په تیره بیا په هغو شخصیتونو پسې چې له هغوئه د خطر احساس کوي .

احمدزي که مونږ ته عاجز ، نرم مجاهدینو ته تسلیمیږي نوبایدوسله پرځمکه کیږدي نه داچې یوبك پرغاړه ولاړ او کنټرول یې په لاس کښې وي - دې کارته نه شریعت اجازه ورکوي ، نه عقل اجازه ورکوي نه سیاست اجازه ورکوي اونه تدبیر اومنطق .

محترم استاد سیاف د غونډې برخوالوته چې د زرګونو په تعداد کښې وو د ډاډینې په لهجه وویل چې مونږ دخدای درضا له پاره اودخدای په توکل او اعتماد داجهاد شروع کړی دی ، دهغه په خاطر مو قربانۍ ورکړي دي له مجاهدینو سره ددښمن د قواو دیوځای کیدلو په باب وویل : کوم قوتونه چې له مجاهدینو سره یوځای کیږي په دې مورد کښې زمونږ څرګند اوشرعی دریځ دادی چې مونږ ددښمن په مینځ کښې اختلافات اودهغو د قوت دړې وړې کیدل او ټوټه کیدل ښه ګڼو خوداچې ددښمن یوه ټوټه ، ددښمن یومنظم قوت د یوقوت په توګه خپل څنګ ته ومنو دا شرعاً ، سیاستاً ، دیناً او عقلاً یوخطا کاردی هیڅکله یې نشو تائیدولای . ددښمن له اختلافاتو څخه دې استفاده وشي ، که

دکابل په ښارکې دګلیم جمع ملیشو اوسوداګرو ترمینځ یوه نښته کې یوسوداګر اودوه تنه ګلیم جمع ووژل شول

دکابل ښار څخه پیښور ته تازه راغلو شاهدانو میډیا ته ریپوټ ورکړي چې : دکابل رژیم بدنام ګلیم جمع ملیشه ؤ دکوچنې اختر نه یوه ورځ وړمبې دکابل ښاریه کارته نو کښې دافغان سوداګرو په یوه ډلې باندې دپیسو دلوټ ماري په خاطر دکلاشینکوفو او چاقو ګانو ناڅاپې حمله وکړه چې په نتیجه کې مشهور سوداګر محي الدین ووژل شوي اوسوداګر نواب خان یې سخت ژوبل کړیدي .

دشاهد دوینا مطابق درژیم عسکرو دپیسې په وخت په دواړو خواومداخله ونکړه خودکوچې قوم وګړود سوداګرو دغچ اخیستولو لپاره تورتو ګلیم جمع ملیشه ؤ څخه دوه تنه په چمن حضوري کې ونیول چې وروسته دښار

دفاریاب په ولایت کې دکابل رژیم یوبل غونـد د (۱۵۰۰) تنو ملیشه ؤ سره مجاهدینوته تسلیم شو

په پیښور کې یوجهادي خبر ځای (میډیا) ته ریپوټ ورکړي چې داپریل په ٥مه نیټه دفاریاب ولایت دپښتون کوټ ولسوالي دخشکوتهاني په سیمه کې دکابل رژیم دملیشه ؤ (۱۵۰۰) کسیز غونډ دملیشه ؤ دقوماندان محمد ایوب خان (علي زي) په مشرې مجاهدینو سره یوځای شوي او خپل پوره ملاتړیې له هغوي سره اعلان کړیدي .

دخبرځای په قول ذکر شوي غونډ چې دمیمنې مرکز په لمر خیتزه ۳۵ کیلومترې کښې دښار امنیتي کمربند مضبوط کړي ؤ . خپلې تولې سپکې اودرندې وسلې یې مجاهدینو ته حواله کړې او ددوې دکورنیو امنیت یې

مجاهدینو دهرات په ولایت کښې دیو تعرضي برید په نتیجه کښې ددښمن ۱۵ پوستې فتح کړې

دمیډیا دخبري آژانس دریوټ له مخې مجاهدینو دهرات ښاریه لویدیځ داسلام قلعه دولسوالۍ لارې په پوستوباندې دڅیبو وسلوبریدونه وکړل چې په نتیجه کې دده سرخ .. رباط پریان ، ګمیزك اوتقې تقې په نومونو (۱۵) پوستې فتح شوي اوداسلام قلعه بندر په لور لویه لاره یې دترافیکو په مخ بنده ګرځیده .

خبرځاي دپیغام په حواله وویل چې

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان

سال تاسیس : عقرب — ۱۳٦٤

ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

اداره ٔ موقت توطئه دیگر دشمنان جهاد

روند جهاد سترك افغانستان نشان میدهد که پیروزي هاي مجاهدین درسنگرها ، سقوط بعضي شهرها وولایات ورسیدن مجاهدین به دروازه هاي فتح و آزادي ، سنگ نا امیدي ویاس را بدل ابرجناوران کافر به شدت هرچه تمامتر نواخته است که فریاد و غوغاي شان فضاي ملکوت رادرهم پیچانده است و دیوانه وار هرطرف دست و پا انداخته تا مکر با حیله ها و نیرنگ هاي شیطاني خود جلو تحقق نظام اسلامي راکه آرمان ملت مجاهد افغانستان را تشکیل میدهد ، بگیرند .

حکومت روبه زوال نجیب شیاد که دیگر با هیچ اتکاي نمی تواند سرپا ایستد و آخرین روزهاي ننگین و مملو از ذلت و خواري را سپري میدارد که نه تنها جهانیان سقوط وي را حتمي و قطعي میدانند بلکه رهبر رژیم یعني نجیب خود آماده شده است که در خلال چند هفته ازقدرت دست [illegible] بکشید و اقتدارنظام را بیك اداره موقت خواهد سپرد . این اداره ٔ موقت راکه نجیب نیز آنرا عنوان میدارد یك قسمت آن ازهمان بیطرف هاي فراري و ذلیل شده اي متشکل مي باشد که درطول چهارده سال جهاد و خونریزي که بیش از ۱٦ لك فرزندان این مرز وبوم بدیار شهادت عاشقانه شتافتند ، به لك ها معیوب و معلول از خود بجا گذاشته و کلا هستي وزندگي وثروت و دارائي این سرزمین بخاکستر مبدل گردانیده شد ، از افغانستان بخون کشیده شده بسوي امریکا ، اروپا فرار کردند ، در فضاي بي ننگي و بي عزتي به عیاشي و خوشگذراني مشغول شدند . این مردمان سنگدل و بي احساس که شمه ٔ مروت و مردانگي دروجود شان مشهود نیست و بعضاً در نایت کلب هاي اروپا خودرا مدافع و وارث جهاد افغانستان نیز قلمداد مي نمودند روزي هم از احوال مجاهدین پرسان نکرده و سري به خیمه اي مهاجر نزدند و از مشکلات زندگي فامیل هاي شهداء و یتیمان آنها خودرا غافل و مبرا ساختند . امروز این عناصر بزدل و جبون آله دست یهود و نصاري که دشمنان دیرینه و کینه توز اسلام اند ، گردیده و گویا خودرا هم شریك مردم مسلمان افغانستان مي خوانند و با فتنه و دغل باري و بي حیایي و بي شرمي جاده صاف کن براي بخش مفکوره هاي الحادي و عناد آمیز طواغیت و مکتب علماني و سیکولریزم غرب و نظام نوین امریکا در افغانستان شهید پرور که هر وجب خاك آن بخون رادمردان آن رنگین گردیده است ، مي باشند .

بلی ! درین اداره موقت که فتنه ملل متحد و موامره ٔ امریکا برضد جهاد ما است یك تعداد اشخاص از نظام کابل نیز جا داده شده است که لیست افراد آنرا نجیب به بنین سیوان نماینده ملل متحد در قضیه افغانستان سپرده است هم چنان تنظیمهاي موافق باین طرح لیست یك تعداد افراد را به سیون تسلیم نموده و حکمیت ملل متحد و سیوان و نُش را در تعیین سرنوشت مستقبل افغانستان پذیرفتند آنها مي خواهندارشانه هاي ناصر و سیوان و نُش خودرا به کرسي قدرت رسانیده وَآنَکاً الحاحت اظهار میدارند که خواهان نظام اسلامي مي باشند . به آنها باید گوشزد نمود که مسیر وراه شان به ترکستان است .

ترسم نرسي به کعبه اي اعرابي

که این راه که تومی روی به ترکستان است

محترم استاد سیاف امیر اتحاد اسلامي افغانستان به ارتباط طرح ملل متحد و اداره ٔ موقت به صراحت تمام چنین گفتند : ما چطور مي توانیم با کسانیکه وطن را فروختند و دروقت آزادي آن به امریکا و اروپا فرارکردند دریك میز مذاکره بخاطر ساختن یك اداره ٔ موقت بنشینیم ؟ وی به ادامه سخنان خود چنین افزودند : چطور مي شود با این طرح که خواهان اداره ٔ موقت است موافقه نمود درحالیکه اردو و پولیس همان اردو و پولیس خلقي بوده و اداره نیز همان اداره کمونیست هاي برحال باشد ؟ ما اصلاً این کار راکه خلاف شرع و منطق و عقل انسان است قبول ندارم و اگر چنین جریان را قبول میکردم پس چه حاجت به اینقدر خونریزي و دربدري بود ؟

اصلاً برنامه و پروگرام طوري طرح ریزي شده است تا ازتشکیل یك حکومت اسلامي درافغانستان جلو گیري بعمل آمده باشد . و این خواست و آرمان شوم دشمنان اسلام [illegible] بوده است زیرا

ص ۵

مونږ يې ولې نه منو؟

پدي شپو ورځو کي دسیمي اوتري راپوټوکانو دنړیوالو غورونه پدي خبرو کاڼه کړي او داچیغي اوناري وهي چي دادي دافغانستان قضیه حل کیږي ، په افغانستان کي ډیر ژر دوینو تویتدل بندیږي اودکابل رژیم ځاي به یوداسي بیطرف حکومت ته تش کړاي شي چي دافغانستان دټول ملت په خوښه وي .

راپوګاني داهم وائي چي په قضیه کي ټولو شاملو اړخونو دملګرو ملتودغه پریکړه اوتصمیم چي دنجیب رژیم به لیري کیږي په لومړي سرکي به یوه پنځلس کسیزه شورا دهغه ځاي نیسي او دځو هفتو په اوږدوکي به هلته یوبیطرف حکومت مینځ ته راتلونکي دي .

هو ! دوه ورځي مخکي دملګرو ملتوسرمنشي بطرس غالي دیوه پریس کنفرانس په ترڅ کي داخبره اعلان کړه چي کابل او اسلام آباد ته دبینن سیوان دسفر په نتیجه کي پدي خبره موافقه شویده چي نجیب به لیري کیږي او دهغه ځاي به په لومړي سرکي یوه پنځلس کسیزه کمیټه نیسي چي داکمیټه دمجاهدینو دټولو خواو په خوښه جوړه اومنل شویده .

خودغالي ددي اعلان نه وروسته به زمونږ زیاتومجاهدو اومهاجرو وروند بي بي سي د راډیو او نورو راډیوګانو له لاري اوریدلي وي چي دغه پریکړه او تصمیم په جدي توګه دجهاد دیوشمیر مشرانو اوقوماندانانو لخوا رد او داخبره په ټینګار سره کړیچي مونږ ددغي کمیټي دافرادو په باب ډیرکم معلومات هم نلرو اوداهغه کار دي چي دملګرو ملتو مؤسسه یي پخپله او دامریکا په سلا مشوره ترسره کول غواړي .

هو ! دجهاد ددښمنانو هڅي او کوښښونه تن سبا دادي چي په هره توګه چي وي دهیواد او دیوتیم ملیون نه دزیاتو شهیدانو دوینو ثمره یوځل بیا دهغو کسانو په لمن کي واچوي چي زمونږ ملت او هیواد یي له داسي غم لړلي او ویرجن حالت سره مخامخ کړي اوله خاورو سره یي خاوري کړي دي .

دجهاد دښمنان غواړي خپله دانقشه پدي بهانه په افغانستان کي عملي کړي چي دلته دوینو تویتدل بندکړي دلته سوله اوامنیت راولي ګویا غواړي چي دسیاسي حل تر پردي لاندي زمونږ ددیارلس کلن جهاد اوقربانیو ثمري ضایع او قدرت داسي کسانو ته وسپاري چي ددي دیارلس کلونو په موده کي په بهرنیو هیوادونو کي دناز اونعمت په پالنګونو کي خوبونه کړي اودجهاد دسنګر دوړي او خولي یي په وجولي هم ندي ناستي هغوکسانو چي دخداي په خاطر اودخداي پرځمکه باندي دخداي دحکم دجاري کولو په خاطر وینی تویي کړي ، قربانیي ورکړي اوراز راز تکلیفونه او زحمتونه یي ګاللي دي هیڅکله هم دانه غواړي چي ددغو وینوثمره دي دداسي کسانو په لمن کي توي شي چي دغه ټول مصیبتونه یي په دي ملت باندي راوستي دي کوم کسانو چي دخپلي عقیدي ، دین اوناموس ددفاع په خاطر وسلي ته لاس کړي دملګرو ملتونو داپریکړي او تصمیم داسلام په خلاف پوسنګر بولي که چیري دملګرو ملتونو موسسه په رښتیا سره په نړي کي دسولي او عدالت ټینګول غواړي ولي دکشمیر اوفلسطین دمظلومو ولسونو قضیه نه حل کوي دالمکه چي په هغه ځاي کي تاوان کافرانو ته رسیږي اومسلمانان خپل حق ترلاسه کوي نوزمونږ په وطن کي هم چي مجاهدینو بري ترلاسه کړي اودخپلي میړاني او شهامت په برکت اودخپلي عقیدي او ایمان په برکت یي روسانو ته ماتي ورکړي ده امریکا غواړي داثمره په خپله ځولي کي واچوي

کیداي شي چي یوشمیر کسان دملګرو ملتونو ددي موامرو او دسیسو ښکارشي خوداهغه کسان وي چي له افغانستان څخه یي دخپلو سرونو اومالونو دساتلو دغورلو لپاره کډه کړیده نه دخپل ایمان عقیدي اوناموس دژغورلو لپاره . لکه څنګه چي دافغانستان د سلامي اتحاد امیر پوهاند سیاف دکوچي نیکرغه اختر دلمانځه دخطبي په پای کي دهجرت کلي په جامع جومات کي دي موضوع ته داسي اشاره وکړه : « کومو کسانو چي دخپل ایمان ، عقیدي اوناموس په خاطر دهجرت لاره غوره کړیده هغوي به هیڅکله هم له خپلو هغو دښمنانو سره دتصمیم ګیري په مرکزکښي کیناستلو ته حاضر نشي چاچي ددوي خوېندي ددوي په مخ کښي دروسانو ټانکونه پورته کولي ددوي دمسجدونو په مناروبي دتوپونو ډزي کولي او ددوي په ایمان عقیده اوناموس یي تیري کاوه » .

هو ! مجاهدین هغه کسان چي دخداي پرځمکه دخداي دقانون جاري کول غواړي اودخپلو یونیم ملیون شهیدانو وینوته دقدر په سترګه ګوري دزړګونو کونډو دټپکړیو احترام ساتي او دزرګونو یتیمانو اوښکي یي ځوروي هیڅکله به هم دخپلو شهیدانو په ککریو او دخپلو کونډو په ټپکړیو اودخپلو یتیمانو په اوښکوسودابازي ونکړي دوي نه له دښمن سره ګډ حکومت جوړوي ،نه له هغوي سره ګډتصمیم نیسي ، نه بیطرف حکومت مني بلکي په افغانستان کي دلکونو لکونو شهیدانو دوینو په قیمت دمجاهدینو په لاس سوچه اسلامي حکومت غواړي .

لکه څنګه چي دافغانستان داسلامي اتحاد امیر دخپلو خبرو په یله پرخه کي دمجاهدینو داموقف پدي توګه څرګند کړ : « مونږ داموقف دزعامت لپاره ندي غوره کړي » مونږ له چاسره پدي اختلاف ندي کړي چي څوك دي په افغانستان کي پاچا شي زمونږ اختلاف پدي کښي راغلي دي چي مونږداسلامي حکومت اودسوچه مسلمانانو حکومت غواړو ، دداسي کسانو حکومت چي دخپل وطن دآزادي لپاره یي درانده کړاوونه ګاللي دي نه بیطرفان ، ملحدین اوبي دینان . »

نو یوځل بیا په ټینګارسره داخبره باید وشي چي خپل ځانونه بي الله (ج) ته تسلیم کړي او دخداي دحکم نه مخي راپورته شویدي هیڅکله هم دملګرو ملتو او دامریکا دتصامیمو او پریکړو خیال نه ساتي بلکي په خداي باندي دتوکل او اعتماد په درلودلو اودخداي ددین دنصرت په ولولـه دحق پـه لاره کښي ثبـات اواستقامت ښیي اوکوم کسان چي دآسلام له دښمنانو سره ددوستي لاس ورکوي اویایي پرخپله قضیه باندي حاکم ګرځوي اوخپل عزت له هغوي سره په دوستي کي لټوي هغوي ډیر سخت غولیدلي دي اولدي څخه ناخبره دي چي له چاسره چي خداي پاك نصرت وکړي ددنیا هیڅ طاقت وریاندي غالبیدلي نشي اوکه خداي څوك په ذلت کي واچوي بل هیڅ څوك ورسره مرسته اونصرت نشي کولاي .

بازگشت همه بسوی خدا جل جلاله است

ملاآقا « سالك »

به رجحان قوي که بازززنده گردانیدن یك چیز بمقایسه از نخستین پیدایش آن آسانتر است وما اهل سنت وجماعت به این عقیده جازم داریم که بعث ویاحشر اجساد بعدازمرگ حق است وقیامت حق است عذاب قبروسوال منکر ونکیرحق است ، جنت و دوزخ حق است وامثال این مغیبات که به شواهد آیات قرآني واحادیث نبوي ﷺ براي ما مسلمانان اخبار شده است .

ایمان با الغیب بزرگترین واساسي ترین بنیاد هاي عقیده ٔ توحید مؤمنان راتشکیل میدهد ومنکر غیب مطلقاً کافر شمرده میشود وهرگاه شخصي ازمعاد وبازگشت بسوي خدا وروز رستاخیز وزنده شدن پس ازمرگ ویایکي ازارکان ایمان واسلام ویا امر قطعي ومتواتره قرآن وحدیث منکر گردد به اتفاق ایمه « دین ومتکلمین کافر است وضروري یاد آوري این مسئله بنظر مي رسد که هرگاه احیاناً برانسان مؤمن اشکالي ویا سوالي درمسایل علم توحید بوقوع افتد حکم طوري است که چنین شخصي علي الفور وبدون تردد وتراخي اعتقاد کند حقیقت آنرا چنانیکه آن به نزد الله تعالي صواب است وسپس نزد عالمي از علماء اهل عقاید برود وحل مشکل نماید وبهتر انست که انسان درهمچو موارد سخت محتاط باشد تا درمسایل ودقایق علم توحید وصفات وامور قدر وخیر بحث ومناقشه ایکه مفضي به شکوك وشبهات میگردد جداً مجتنب وبرحذرباشد ازمبحث بنابر تدویر رشته سخن حاشیه رفتیم وباز میگردیم به اصل مطلب :

بلي ! ذات واجب الوجود آیسان رابخاطر یك آزمایش عملي ازکتم عدم بصحنه ٔ وجود مي آورد واین سلسله از حضرت ابوالبشر تاخاتم الانبیاء « ع » وتا روزقیامت جاري است پروردگار بزرگ انسان مؤمن ازبدو پیدایش درین سراي فاني دنیا ظاهراً ازسه مرحله میگذرد ویابهتر بگوئیم مبدأ - معاش ومعاد دارد چه از سلاله ٔ مسلمانان همگي ذریه برملت ابراهیم « ع » وامت محمدیه ﷺ وفطرت اسلامیه بدنیا مي آیند درحالیکه ذراري مشرکان واولاد کافران نیز از اول وهله ٔ پیدایش بر فطرت اسلام تولد میگردند مگر بعدازآن پدر ومادرش اورا به کیش یهودیت یانصرانیت ومجوسیت مي کشاند که بدین ملحوظ حکم فراگیریه اجتماع مسلمین بوده وسیاق کلام به افراد مؤمن اختصاص داده شده است چون حقیقتاً که انسان وبویژه مسلمان با این سه مرحله خلقت ، معیشت وبازگشت رو بروواست روزنه ٔ حکمت آفرینش انسان درمحك آزمایش قراردادن آن ازطرف پروردگار مصداق عیني وعملي دارد ازآنجائیکه درسوره ٔ « الملك » در آغاز این آیات کریمه میفرماید :-

ترجمه :« بابرکت است ذاتي که به ید بلاکیف آن پادشاهي است واو برهمچیز توانا است آن خدائیکه مرگ وزندگي را آفرید تا بیازماید شمارا که کدامیك شما بهتر اید از روي عمل » چون انسان مسلمان ازمادرپیدا میشود وازبزرگترین وسختربن گذرگاه میگذرد واین نخستین خلقت پید ایش وي بمقایسه بمرگ ودوباره فنائیت آن آسانتر است به این مفهوم که هرگاه یك شئ معدوم باشد خداوند قدیر آنرا درحال انعدام ومعدومیت اش میداند ویوجود آوردن معدوم عقلاً براي کسانیکه منکر زنده شدن بعدازمرگ است بارزترین حجت واستدلال است که آیا پیداکردن ویا ایجاد یك چیز معدوم که هرگز وجود خارجي نداشته باشد سهل وآسان است ویاآینکه موجودي بعدازوجود معدوم ویازززنده گردانید شود ویرانگیخته شود ؟!

ملیت پالنه یا دشراوفساد جرړه

۳- دملیت پالنی آفتونه اوزیانونه

۱ - تعصب :

« دناسیونالیزم یا ملیت پالني له ډیرو سترو آفتونو او ضررونو څخه یو هم په سنجش کښي تعصب دي .

« تعصب » یوسخت عاطفي تمایل دي چي فرد یا ټولنه دیته اړباسي چي له واقعیتونونه غفلت وکړي اوپه خپلو قضاوتونوکي جامد مشکل ژبهوونکي او دخپلو غوښتنو تابع شي .

ملیګرایان معمولاً په یوهیواد کښي نوروملتونو ته دتعصب په سترګه ګوري اوخلك دیته اړکوي چي خپل ملت « We group » ډله ته نژدي اوخپل وګڼي او دهغه ستاینه وکړي اونورو یاپردیو ملتونو « They -group » ته دحقارت او دښمني په سترګه وګوري .

دغه حالت ددي سبب کیږي چي په « سنجش » او دکاړونو په کتنه ګوري کي دخپلي ډلي یا پرګني کاروته ډیر ستر او داهښت ور وګڼي او دنورو په نسبت همدرد ، زغمونکي اوحلیم نه وي .

ددغي ملیت پالني ځان منته او تعصب په مختلفي وضعي او ځرنګوالي سره په مختلفو بهو کښي راڅرګدیږي .

قوم پالنه (قوم پرستي) « Ethno-centism » هیواد پالنه (شوونیزم) نژاد پالنه (راسیزم) ټول دناسیونالیزم دغیر متعادل حالت ډول ډول نښي نښاني دي .

۲ - ځان لوړیلنه او دتاریخ تحریف :

هیواد ټمانځنه تل دځان لوړیلنې او خودپرستي غیر متعادل حالت له ځان سره لري اوددغي مفکوري پیروان او لاروي تل په دي هڅه کي دي چي دنورو ملتونو په تحقیر اوسپکولو سره خپلي جرړي ټینګي او پیاوړي کړي .

مشهور ټولنه پیژندونکي والتر لاکورلیکي :

« دناسیونالیزم له ډیرو غټو خصوصیتونو څخه یوهم دخپل ملت زیات شمیرنه او دنورو کوچني ګڼنه اوپه خپل ځان باندي دانتقادي روحیي بحسئولیت دحس او دانصاف دجنبي درعایت نشتوالي دي » .

ملیت ګروهنه په عمومي ډول ، اتکل ، افراط ،مبالغي ، تحقیر اوبي ځایه ځان ستاینې ته متوسل اوځان تردي کوي اوله ټولو نه بده خولاداده چي تاریخ تحریفوي درواغ اوموهوم تکلونه اوکیسي دتاریخ یوه برخه ګڼي او له ټولنیز اوتاریخي واقعیت نه ویره لري .

ویل دورانت وائي :

« نولسمي پیړي ناسیونالیزم کشف کړ او تقریباً ټول تاریخ لیکونکي یې فاسدان کړل » .

تراتچ ، وني زیبل ، میشله او مارتن ، مکولي ، ګرین ، پانګرفت او فتیکه لومړني وطن لمانځونکي ؤ او بیا تاریخ لیکونکي شول ، هرملیت پالونکي خپل هیواد دخداي غوره ځمکه ګڼي اونوره ټوله نړي له شر اووحشت نه ډکه .

ناسیونالیستانو تاریخ فاسد اوله فتنونه ډك کړي دي . له دغو ملیت پالونکو څخه یو تن وړاندیز کوي : نړیوالي سولي ته درسیدو لپاره دالازمه ده چي ددوستي اوسوداګري دتړونونو دلاسلیکولو پرځاي تاریخ له مینځه یوسو .

دتاریخ تحریف دناسیونالیستانو له ډیرو غټو آفتونو څخه دي .

بنابي څوك داسي فکروکړي چي دغه خصوصیت دناسیونالیزم په افراطي دولونو کښي موجود دي خوداسي نده بلکي ملیت پال په خپل ماهیت کښي خپل ځان غوره او دنورو دتحقیرپه لوري مخه کوي .

داددي لپاره که چیري ، په خلکو کښي دخپل ملت په هکله دویاړني یوکاذب احساس پیدانکړي ، څرنګه کولاي شي چي ملت دخپل ځان په نسبت دتعصب او دنورو په مقابل کښي ددریغ دتیولو په لور روان کړي .

۳ - قوي تعصب یا «جاهلي عصبیت» :

لکه څنګه چي ملیت ګروهنه دانسان دحیواني غرایزو پرمبنا ولاړه ده اوله

ص ۳

مسلمانان برما ، درمعرض ستم مضاعف رژیم رنگون

قسمت دوم

قبلاً متذکرشدیم که تحرکات ضد اسلامي وآواره ساختن مسلمانان که حکومت برما درحال حاضر درپیش گرفته ازسال ۱۹۸۸ میلادي بدینسو مصادف باشورش عمومي مردم برما براي دیموکراسي آغاز گردیده است . درآن زمان نیروهاي دولتي برما بیش از سه هزار تظاهرکننده را با بسیار بي رحمي قتل عام کرده وهزار تن دیگر رابه زندانها وشکنجه گاه ها بردند . شوراي قانون ونظام دولت که قیام عمومي را دربرابر حکومت سوسیالیست مشاهده نموده بلافاصله درماه مي سال ۱۹۹۰ انتخابات عمومي رابراي برقراري دیموکراسي بر گزار نمود وخود شوراي قانون ونظام دولت حزب وحدت ملي راکه زیر نام برنامه سوسیالیست برما فعالیت مینمود واز شصت سال به اینطرف این کشور را اداره کرده حمایت نمود . درنتیجه حزب وحدت ازجمله ٤۸۵ کرسي فقط ده کرسي بدست اورد ولي لیگ ملي براي دیموکراسي ۸۰ فیصد کرسي هارابه خود اختصاص داد . زمانیکه شوراي قانون ونظام دولت این پیروزي لیگ ملي رامشاهده نمود بلافاصله نتیجه انتخابات رانادیده گرفت وبه دستگیري افراد لیگ ملي آغاز نمود ویك سیاست دور وبه را درپیش گرفت . به خارج اعلان کرد که برما سوسیالیزم راترك کرده ومیخواهدکه کشورهاي خارجي در برما سرمایه گذاري نماید . حق استخراج معادن ملي ونفت را به شرکت هاي جاپاني وغربي داد وجنګلهاي درخت رابه تایلند فروخت . بعضي ازکارگردانان دولت تجارت تریاك راکه قبلاً ازطرف جنگجویان حزب کمونیست به پیش برده میشود به دست خود گرفتند . برما با پول نقد خود ازچین وسنگاپور مقدار زیادي تجهیزات نظامي خریداري نمود ودرمقابل شوراي قانون ونظام دولت به خواست خود نسبت به سرمایه گذاران خارجي یك رویه متفاوت درپیش گرفت وبدینوسیله حکومت تمام جنبه هاي حیاتي مردم برما راتحت نظارت قرار داد . معلمین واستادان پوهنتونها مجدداً به تعلیم فرستاده شدند وتعداد ازاعضان بودي که به حکومت مطیع بودند درین پوهنتونها استخدام گردیدند .

ص ۳

په افغانستان کښې داسلامي حکومت دمخنیوي لپاره داستعماري ځواکونو هلې ځلې

داپومسلم حقیقت دي چي دآدم علیه السلام دزماني راهیسي دحق اوباطل ترمینځ جګړي را رواني دي اوپه هروخت اوزمانه کښې شیطاني اوطاغوتي قوتونو دوخت سره سم دحق په مقابل کښې له راز راز توطئو اوموامرو ځخه کار اخیستي دي خو دالله « ج » فیصله ده چي حق راشي نوباطل مغلوبیدونکي اوحق برلاسي دي دهمد غي خدائي فیصلي په رڼاکي که دافغانستان مسئلي ته نظر واچووتودابه راته په ډاګه شي چي له کومي ورځي ځخه چي روساتو خپل ایجنټان اوغلامان په افغانستان کښي قدرت ته ورسول نوله همغي ورځي دافغانستان مؤمن اومجاهد ولس دخپلي کلکي عقید ي اوپوخ ایمان په جذبه راپورته اوددغه الحاد ي اوشیطاني ځواکونو په مقابل کښي يي دجهاد تاوده سنګرته ورودانګل اوله هیڅ راز قربانیو او سرښندنو ځخه يي دوه ونه کړه چي بالاخره روسان ويوهيدل چي ګوډاګيان يي په افغانستان کښي دقدرت په ګدي نشي پاتي کيداي نو همغه ؤ چي په ۱۳۵۸ کال کښي يي مستقيماً خپل سور پوځ دافغانستان پاکي خاوري ته داخل کړ اودافغانستان پرمسلمان اوبي دفاع ولس يي له هيڅ راز وحشت اوبربريت ځخه دوه ونه کړه علماء ، روحانيون ، سپين ږيري قومي مشران ، ځوانان ، ښځي ماشومان اوحتي ځاروي هم ددوي له ظلم اوتيري ځخه بچ پاتي نه شول انسانان يي ژوندي ترخاورولاندي کړل راز راز تعذيبونه يي ورکړل زندانونه يي پري ډك کړل خوددي هرځه باوجود دافغانستان دمؤمن اومجاهدملت په عقيده کښي هيڅ بدلون رانغي بلکي تر پخوابي لازيات ايمان غښتلي اوعقيده يي مضبوطه شوه

اوپر غلگرو پوځونو ته يي داسي ګوزارونه ورکړل چي په پوځي ډګرکي له داسي ماتي اوشکست سره مخامخ شول چي په تورمخ اوځوړند سريي له افغانستان ځخه خپل خرسوري راغونډ اودتيښتي لاره يي ونيوله چي دي رسوا ماتي اوشکست په ټولو کمونيستي هيوادونو باندي تأثير اوآغيزه واچوله اوپه نتيجه کښي ټولو کمونستي هيوادونو دروسانو دغلامي حلقي اوځنځيرونه وشکول اوپر په بل پسي يي ځانونه

دروسانو دغلامي ځخه ازاد کړل چي بالاخره پخواني شوروي ټوټي ټوټي اودتل لپاره يي ددنيا له نقشي ځخه نوم اونښان ورك شو .

اوس چي دافغانستان جهاد دکامیابي پړاؤته رسيدلي اودمبوي دراپرليدو وخت يي رانژدي شويدي نوغربي استعماري هيوادونه چي په سرکي يي امريکا وجود لري نه غواړي چي په افغانستان کښي دمجاهدينو په لاس سوچه اسلامي حکومت مينځ ته راشي اوپه هرقيمت چي وي امريکا اودهغه انډيوالان کوشش کوي چي په ټوله نړي اوخاصتاً په افغانستان کښي داسلامي حکومت دجوړيدو مخه ونيسي نو همدا لامل دي چي په افغانستان کښي يي په رنګارنګ دسيسو اوتوطيو لاس پوري کړي کله دوسيع القاعده حکومت ، کله دمخلوط حکومت پيشنهادونه کوي کله دملل متحد پلانونه اونقشي ترتيبوي کله دملي ګرا اويتباد ګرا په نامه ، کله دژبي ، نژاد اومنطقي په نامه داختلاف اورته لمن وهي اودمجاهدينو په مينځ کي دبي اتفاق تخم شيندي .

« خليل »

خو مونږ داپه ډاګه اعلانوو چي دافغانستان ملت اوس ويښ اوبيدار ملت دي اودهغه پروني ملت ندي چي دهر چاپه تشو اوبي بنياده خبرو تر تاثير لاندي راشي اوخپل هغه هدف اومقصد له لاسه ورکړي چي دا ځوارلس کاله يي دهغې دلاس ته راوړلو لپاره په لکونو قرباني ورکړيدي او ورکوي يي چي پدي هکله دافغانستان داسلامي اتحاد موقف ځرګند اوپه ډاګه دي اودافغانستان داسلامي اتحاد امير محترم استاد سياف په بار بار په صريحو الفاظو کښي اعلان کړيدي چي (مونږ مختلط حکومت نه منوءنه له دښمن سره ګډ تصميم نيسو اونه دکافرانو حاکميت منو .

مونږ په افغانستان کښي دمجاهدينو په لاس يو سوچه اسلامي حکومت غواړو) .

البته پدي کښي شك نشته چي ځيني ولي اوهغه کسان چي دخپلو سرونو دژغورلو په خاطريي وطن پري ايښي دامريکا اودهغي دلاس پوځي سازمان(ملل متحد) پدي اوسنيو غورځو وعدو وغولیږي اوخپل غيږه دهغوي له غړسره ملګري کړي خوهغه کسان چي دخپل ايمان ، عقيدي ، ناموس ، پت عزت دژغورلو په خاطريي خپل ګران وطن پري ايښي اودهجرت لاره يي نيولي ده هيڅکله ددښمن پدي پوچو وعدو ونه غوليږي اوخپل جهاد اومبارزي ته به دوام ورکوي .

اوانشاء الله بري به هم دهمدوي په برخه وي .

دالله « ج » وعده هم همدا ده چي په داسي ازميښتونوسره خپل خاص بندګان معلوم کړي اوبيا همغه لږشمير مخصلو بندګانوته کامیابي اوبرلاسي ورپه برخه کړي .

د مليت پالني

عقيدي فکر ، شعور اوپوهي سره تضاد لري نو له همدي امله اسلام هغه د « جاهلي عصبيت » په نامه يادوي اودغه وجه تسميه ددغي حيواني مفکوري له خصوصيتونو اومبانيو ځخه ده .

لکه ځنګه چي يو فرد په تصادفي ډول په يو خاص هيواد کښي دنيا ته راغلي ، نو له دي امله نوموړي له هردليل نه پرته دنورو ملتونو افراد تحقير او يا « دښمن » تلقي کوي . دابوازي له دي امله چي يو فرد په اروپا کښي وزيږيد اوسفيد پوټکي دي احياناً نور افراد حقير او خوارګڼي اوخپل ځان ته داحق ورکوي چي تور پوټکي دخپلو يرغلونو او تيريو هدف وګرزوي ، او له کومو معيارونو ځخه چي خپلو وطنوالو په اړه استفاده کوي ، هغه داسي دي چي بل ځوك يي ونلري . ديو فرانسوي فرانسوي توب او ديوآلماني آلماني توب چي دطبيعت په غوښتنه يي ښه نيولي نه د « پوهانو په انتخاب » سره دواړوه ته داحق ورکوي چي له هر چانه نفرت ولري ، دحق او انصاف حس يي بالکل فلجوي او دانسانانو په هکله له دوه ډوله معيارونو نه کار اخلي .

آيا له دي نه به ډيره غير منطقي ، ناروا اوغيرانساني خبره چيرته وي چي يو بدکار اومفسد فرد ته ددي لپاره چي په يوه خاص هيواد ملت ، نژاد پوري اړه لري او يا په يوه خاصي ژبي باندي خبري کوي ، ديوه نيك او ورسړي په نسبت ترجيح ورکول شي اودابوازي ددي لپاره چي له سرحدنه دوه کيلومتره هاخواته زيږيدلي دي . ملګرايان د نورد ملتونو دخصوصياتو بوازي په يوه خـــــاص نژاد يا ملت پوري ديبوستون له امله غوره يا حقيرخپل يا پردي ګڼي پرته له دي چي دچاتقوي ، تعهد ، عملي اوفکري ورتيا په نظر کښي ونيسي . په دغسي يو حکومت کښي بيا انساني شرافت ، نيك عمل ټول بي ارزښته شي داددي لپاره چي يو فرد په يوه خاصه ځمکه کښي زيږيدلي دي : په مليت پالنه کښي دانسانيت مرتبي د« خاوري » و « وينې » په تلي تلل کيږي نه دعمل ، تقوي او ايمان په معيار .

په هره اندازه چي دمليت حس تقويه کيږي په همغي اندازي ناروا قومي تعصب اوجاهلي عصبيت هم شدت نيسي او دانسان ليدهم دمليت په څلورو ديوالونو کښي محدوديږي . ددغي مفکوري لارويان بيااله عقلاني قضاوت اوپليتني نه پرته په عاطفي او احساساتي ډول له هرهغه څيز نه چي دهغه په « هيواد » پوري اړه ولري دفاع کوي اوهر هغه ځه چي له هغه نه بهر وي « پردي » او « حقير » ګڼي ، دحق په نظر کي نيولو نه پرته ، له خپلو نه پلوي کوي او دنورو په مقابل کښي دريغ نيسي .

« جاهلي عصبيت » چي اسلام په کلکه محکوم کړي همدا دي . مليت ګروهني دغه « عصبيت » له « طبقاتي » قبيله اي غيرانساني نظام نه په ميراث وړي خو هغه ته يي بيا ډير خطرناك ابعاد ورکړي دي .

اوتقوي معيار ته له پاملرني پرته) ، له نورونه غوره اوارچته ،

دمليت پالني دغه ډول احساسات ګاونډيو هيوادونو اوملتونو ته هم سرايت کوي اوهلته هم ورته احساسات پيداکيږي اوپه دي توګه دوامداره رقابت اوسياسي سکروټي او اوراخلي او ديوبل په مقابل کښي دنژادي تعصب په را پارولو سره دغه اور نور هم په لمبوشي .

